مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۵/۱۲/۲۷

# طواف نه مخکې د ذکات رکن دی

حج ته بیا مه ځه ای خبره واوره!
دلته سړک باندې کعبه پرته ده

طواف نه مخکې د ذکات رکن دی
تـولـنـه لـوږې نـه روژه پـرتـه ده

دلته په ځمکه انسانیت مړ کیږي
د ثـوابـونـو ګنجینه پـرتـه ده

د زړه هیندارې نه ګردونه پاک کړه
پکې د عـرش او فرش کیسه پرته ده

ویده ژوندیه سـتـرګې و غـړوه
دلـتـه د وږیـو هـدیـره پـرتـه ده

زړه کـې یـې یخ وهي ایمان باوره!
دلـتـه پـه واورو کـې سجـده پرته ده




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ